Community Resilience to Foreign Interference

# حقوقي مرسته او مشوره

**یادونه:** دا عمومي مالومات دي. دا مالومات یوازې ستاسو د پوهاوي لپاره دي او حقوقي مشوره نه ګڼل کیږي.
په ځانګړو موارد کې د حقوقي مشورې ترلاسه کولو لپاره، له یوه وړ حقوقي متخصص سره خبرې وکړئ.

که چیرې یو څوک د بهرني نفوذ تر اغېزې لاندې وي، حقوقي مرستې او مشورې ته لاسرسی ورسره مرسته کولای شي چې خپل حقوق او شته اختیارونه بنه وپېژني.

## ستاسو حقوق په نیوزیلنډکې

[په نیوزیلنډ کې د خپلو حقوقو په اړه دلته ډېر څه زده کړئ.]

## چېرته کولای شو حقوقي مرسته ترلاسه کړو؟

### تولنیز حقوق

د تولنیزو حقوق مرکزونه په لاندې برخو کې مرسته کولای شي:

- حقوقي مالومات او پوهاوی
- حقوقي مشوره، مرسته او استازیتوب – په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې د حقوقي خدماتو د لګښت ورکولو وړتیا نه لري.

په ټول نیوزیلنډ کې ۲۴ د تولنیزو حقونو مرکزونه شتون لري. ډېری مرکزونه په کوچنیو ټولنو کې ګرځنده خدمات یا کلینیکونه وړاندې کوي. د لیدني وخت ټاکلو لپاره، په مستقیم ډول له سیمه ییزو مرکزونو سره اړیکه ونیسئ.

[د نورو مالوماتو لپاره د Community Law وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ.]

### د ځوانانو حقوق

د ځوانانو حقوق د ۲۵ کلونو څخه کم عمر لرونکو ټولو ماشومانو او ځوانانو لپاره وړیا حقوقي خدمات وړاندې کوي.

[د نورو مالوماتو لپاره د Youth Law وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ.]

### د اتباعو د مشورې دفتر

د اتباعو د مشورې دفتر په لاندې برخو کې مرسته کولای شي:

- د حقوقو په اړه مالومات
- وړیا، محرم او خپلواک معلومات او مشوره
- د حقوقي مشورې ترلاسه کولو لپاره ستاسو د سیمې د تولنیزو حقونو مرکز ته راجع کول
- د هغو خدماتو ته د لاسرسي په اړه مالومات چې تاسو ورته اړتیا لرئ

[د نورو مالوماتو لپاره د اتباعو د مشورې دفتر وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ]، یا د وړیا او محرمانه مرستې لپاره له ۰۸۰۰ ۲۲۲ ۳۶۷ شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

**حقوقی مرسته**

د حقوقي مرستي بودجه د حکومت له خوا تمويليږي او د هغو کسانو لپاره ده چې د وکیل د لګښت ورکولو وړتيا نه لري. دا بودجه د حقوقي خدماتو د لګښتونو په ورکولو او د هغو حقوقي ستونزو په حل کې مرسته کوي چې ښايي محکمې ته راجع شي، ترڅو کسان د وکيل د لګښت د نه لرلو له امله عدالت ته له لاسرسي بې برخې نه شي.

[د حقوقي مرستي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دلته وګورئ](#)

**د نیوزیلنډ د وکیلانو ټولنه**

د نيوزيلنډ د وکيلانو ټولنه (NZLS) په نيوزيلنډ کې پر وکيلانو د تنظيموونکي او څارونکي اداري په توګه کار کوي. خلک کولای شي د دوی د انلاين نوملړ له لارې خپل مطلوب وکيل ومومي. په دې نوملړ کې هغه وکيلان شامل دي چې په نيوزيلنډ کې د وکالت اجازه لري.

[د نيوزيلنډ د وکيلانو ټولنې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ.](#)